# كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ، حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: «كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ، حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ: سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ، سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ». «دوه کلمې دي چې په ژبه سپکې، په تله کې درنې او رحمان - ذات - ته محبوبې دي: سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ، سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ»، یعنې پاکي عظیم الله لره ده، پاکي او ستاینه الله لره ده.

[صحيح] - [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی)]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوو کلمو په اړه خبر ورکوي چې يو سړی يې له سختۍ پرته او په هر حالت کې ويلی شي او دا چې په تله کې يې اجر ډېر لوی دی، او دا چې زمونږ رب؛ رحمان ذات يې خوښوي. سبحان الله العظيم، سبحان الله وبحمده؛ ځکه چې پدې دواړو کلمو کې الله تعالی په لويۍ او کمال سره ياد شوی، او له نقص څخه يې پکې پاکي بيان شوي ده.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5507